# ځوک چې (د کوروالي)وړتيا ولري نو واده دې وکړي، ځکه چې دا (کار) د سترګو د حفاظت او شرمګاه د ساتلو لپاره غوره دی، او ځوک چې توان نه لري، نو روژه دې ونيسي، ځکه دا ورته (شهوت پرې کوونکې) ده

له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: موږ له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره وو، نو وېې فرمايل: "ځوک چې (د کوروالي)وړتيا ولري نو واده دې وکړي، ځکه چې دا (کار) د سترګو د حفاظت او شرمګاه د ساتلو لپاره غوره دی، او ځوک چې توان نه لري، نو روژه دې ونيسي، ځکه دا ورته (شهوت پرې کوونکې) ده".
[صحيح] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه کسان واده کولو ته هڅولي چې د جماع کولو توان ولري او د واده لګښتونه پرې کړای شي؛ ځکه پدې سره يې سترګې له حرامو ساتل کيږي او عفت يې هم ساتل کيږي، او په بد کاريو له اخته کېدو څخه يې مخنيوی کوي. او ځوک چې د واده کولو له بار څخه نه شي وتلی او د کوروالي وړتيا ولري نو روژه دې ونيسي، ځکه روژه د شرمګاه شهوت او د منيو شر پرې کوي.